# دفتر دکتور محمد اشرف غني

تاریخ: ۱۴/سرطان/۱۴۰۳

اوولسم پودکاست

## معلوماتي ټکنالوجي «دویمه برخه»

جنبش: دا له ډاکتر محمد اشرف غني سره یو بل پودکاست دی چې تاسې ټول ورته ستړي مه شئ. د تېرې خپرونې په دوام لا هم په ټکنالوجۍ او مدیریت غږېږو. این سلسله را با من داود جنبش دنبال کنید.

استاده بیا ستړي مه شئ، هماغسې مو چې په تېره خپرونه کې ژمنه کړې وه، له هماغه ځای نه به یې را پیل کړو چې هغه مو ودروله.

دکتور غني: بسم الله الرحمن الرحیم. ډېره مننه، خدای مو په خیر ساته او خدای دې ټول وطنوال په خیر ساتي.

جنبش: مننه؛ چې اورېدونکو ته ور یاده کړم څکه یو څه وخت به تېر شوی وي چې، موږ په دې غږېدو چې معلوماتي ټکنالوجي البته په ټوله نړۍ کې نوې ده، خو افغانستان چې په جګړو کې و، بیا ورته بېخي نوې وه او کله چې په ۲۰۰۱ کې یو نوی حالت رامنځته شو چې باید ټول شیان بېرته له سره ورغږېږي، دغه برخه هم را پیل شوه او تاسې په کې، استاده مستقیماً دخیل شوئ، زما پوښتنه دا ده چې خنډونه یې څه وو؟ تاسې وویل چې په بله خپرونه کې به یې بیا دې نه را پیل کړو. چا خنډونه جوړول؟ یا اصلاً کوم خنډونه وو؟ او څنګه لرې شوو؟

دکتور غني: ډېره مننه، خنډونه دې برخو کې وو: یو، د ملګرو ملتونو د موسسو له خوا؛ دویم، د امریکې د اداراتو او خاصتاً د امریکې د اردو له خوا؛ درېیم، د غیردولتي بنسټونو له خوا؛ او څلورم د دولتي اداراتو له خوا.

جنبش: یعنې درېیو یې خارجیانو پورې اړه درلوده او یو یې داخل مملکت پورې؟

دکتور غني: بالکل، هر یو باندې غواړئ چې معلومات درکړم.

جنبش: اورېدونکو ته به په زړه پورې وي چې مثلاً د امریکا پوځ ولې خنډونه جوړول؟ ملګرو ملتونو ولې؟ او نادولتي موسسو یا غیردولتي موسسو ولې جوړول؟

دکتور غني: اصلي خبره په دې کې ده چې ملګرو ملتونو ته موږ وړاندیز وکړ په ۲۰۰۲ کال کې چې انتخابات باید الکترونیک او کمپیوټري اساس ولري. موږ هغه دوران کې حساب کړی و چې، که موږ له ۲۰۰ تر ۴۰۰ میلیونه ډالره پانګه واچوو - ټول بهادار اسناد، لکه تذکره او پاسپورټ هم په دې کې راتلل- نو پس له ۳ کالو به دا په ګټې راتلله.

دوی دا مطلق منفي کړله او په کلونو یې انتخابات په لاسي سیستمونو عملي کړل. د انتخاباتو دا ټول جنجال له دغه ځایه را وتلی و.

جنبش: یعنې که هغه وخت کې دا مشکل حل شوی وی، دا وروستي مشکلات به مو نه درلودای.

دکتور غني: نه به مو درلودلی. له بده مرغه ملګري ملتونه د منابعو په برخه کې د افغانستان د دولت رقیبان دي. مالیې وزارت کې ما دوی باندې ټینګ اصول ایښي وو او موخه مې دا وه چې ملګرو ملتونو یو واحد بنسټ جوړ شي چې مورږ سره کار وکړي. او [بل دا چې] له تخنیکي نظره، له بده مرغه دوی پوهه نه لري.

جنبش: وبښئ هغه منابع چې نړیوالو تخصیص کول دوی رقابت کاوه چې یوه برخه یا ډېره برخه یې ملګري ملتونه ترلاسه کړي؟

دکتور غني: هو، چې ډېره برخه یې [ترلاسه کړي]. په لومړۍ برخه کې د توکیو په کنفرانس کې تقریباً ټوله له ٪۹۰ نه ډېره برخه دوی او اینجوګانو ته لاړه. مخکې له دې چې زه اول د بین‌المللي ادارې د انسجام او بیا د مالیې وزارت مسوولیت واخلمه، د افغانستان دولت څه نه درلودل، ټولې پیسې دوی ته لاړلې. تر اخره پورې ډېرې منابع دوی او غیردولتي بنسټونو ته تللي او کم‌ترینه برخه د دولت بودیجې ته راغلې. دې باندې باید وطنوال او خاصتاً بین‌المللي ټولنه پوه شي، ځکه دوی ادعا لري چې افغانستان ته میلیاردها ډالر راغلي؛ خو اکثریت د دې پیسو د دوی له خوا لګېدلې دي او دوی باید حساب راکړي. ما له دوی نه ډېر ټینګ حساب غوښته.

جنبش: او دوی یې بېرته زیاته برخه په معاشونو کې اخیستې.

دکتور غني: معاشونو باندې او بې‌ځایه مصارفو باندې لګېدلي. زه په سلها دلایله خاصتاً د کوویډ وبا په دوران کې د دوی د خپلو، د ملګرو ملتونو د اسنادو [پر اساس] درکولای شم. دوی پیسې ولګولې؛ د ملګرو متلونو هرې برخې بېل کمپیوټري پروګرامونه درلودل او سلها میلیونه ډالر یې په دې مصرف کړل چې سیستمونه جوړ کړي، اما دا نه د افغانستان ولس او نه دولت ته پاتې شول.

جنبش: کوتاه اگر در مورد مشکلاتی که از طرف اردوی ایالات متحده امریکا ایجاد میشد، صحبت کنید.

دکتور غني: دو بخش داشت: یک، در ظرف تقریباً ۱۵ سال اردوی امریکا قادر به این نشد که اسناد واضح موجودیت پولیس و اردو را به صورت قابل اطمینان تهیه کند. از سال ۲۰۰۷ به بعد که ببینید، هر سال اینها می گویند که در سال آینده این فراهم میشود و تا سال ۲۰۲۱ این فراهم نشد. مشکل تنها در افغانستان نیست. من پس خود سیستم وزارت دفاع امریکا را مطالعه کرده ام و اسناد زیاد در این قرار دارد؛ اینها عین مشکل را دارند. وزارت دفاع امریکا در سال ۲۰۲۲ که آخرین بررسی شده بود، هنوز نمی فهمید که چند تا قراردادی دارد، چون اینها سیستم‌های پراکنده کمپیوتری دارند. و سیستم‌های اینها بر اساس سیستم‌های قبلی که توسط دست، قلم و کاغذ انجام میشد، انجام گرفته.

چیز دومی که صورت گرفت – اینها زیادتر از یک میلیارد دالر را اختصاص دادند به این که بودجه وزارت دفاع و داخله منظم ترتیب شود و [این کار را] به یک شرکت اجاره دادند. تا آخر سیستم بودجوي وزارت داخله و دفاع بر اساس کاغذ استوار بود، نه بر اساس سیستم‌های کمپیوتری. بنابرین نوع مصارف، که قسمت زیاد این معلومدار معاشات بود، شفافیت نداشت. در وزارت داخله ما قطعاً نمی فهمیدیم که واقعاً چند نفر پولیس وجود دارد و اسنادی واضح داریم که [افراد] چهار رقم معاش می گرفتند. همچنان در خارج بودند اما جز منسوبین وزارت داخله حساب می شدند. سیستم های موازی مشکلات جدی دارد.

پس که به مثال های موفق دیجیتل سازی برویم، این مشکل به صورت واضح برای تان تشریح داده میشود که راه‌های موفقیت چیست؟ اما از این جهت بود که مصارف فوق العاده بزرگ صورت می گرفت، اما قسمت عمده آن پس به همان شرکت‌ها می رفت که جز قراردادی‌های وزارت دفاع امریکا و اداره کمک‌های بین‌المللی امریکا بودند.

جنبش: د افغانستان خپلو داخلي مشکلاتو باندې به وغږېږو، خو لږ وروسته. د دې نه مخکې غواړم تاسې نه د یوې مهمې پروژې په باره کې نور معلومات وغواړم چې هغه د برقي تذکرې دودول او خپرول او ویشل و. خنډونو باندې یې نه غږېږو چې څومره سیاسي مخالفتونه رامنځته شول او ولې رامنځته شول؟ خو دغه بهیر تاسې لومړیتوب ته راوست، پیل مو کړ او یو ځای ته مو ورساوه، ولې یې درته لومړیتوب درلوده؟

دکتور غني: لومړیتوب ځکه دی جنبش صاحب چې باید هر افغان وکړی شي چې خپل هویت ثبت کړي او د تذکرې په اساس نور معاملات سر ته ورسوي. د نن ژوند، د یو ویشتمې پېړۍ ژوند بې له دقیقو محاسبو نه، نشئ کولای. ځکه که برقي تذکره ولرئ، بیا که خدای ناکرده زلزله راځي، سېلاب راځي یا بل آفت راځي، تاسې کولای شئ چې [د تذکرو پر اساس] افراد معلوم کړئ او په مستقیمه توگه ورته امکانات برابر کړئ. دا [معلومات] چې ټیلیفون سره وتړئ، پیسې مستقیم [د موبایل بانکدارۍ له لارې] نفر ته ځي. د دې پر ځای چې د ادارې، نظارت او نورو... یوه لویه دستگاه ولرئ، په مستقیمه توگه پرداختونه کېدای شي.

بل، معاملات کمپیوټري کېدل او ډیجیټل کېدل دي. په دې معنی چې برقي تذکره د دې اساس دی. که مالیه ورکوئ، که د گمرک پیسې ورکوئ، مخصوصاً که پاسپورت اخلئ، که نوره راشه درشه کوئ، دا ټول به درته معلوم وي. موږ [د تذکرو په وېش کې] پنځه میلیونو ته رسېدلي وو، که دې لړۍ په هماغه قوت چې موږ مدیریت کوله، دوام کړی وای، د ۲۰۲۱ کال په ختم کې به ۱۰ میلیونو ته رسېدلي [وای].

یو عمده دلیل ماته دا و چې د کوویډ وبا په دوران کې مې ٪۹۰ افغانو کورنیو ته مرستې ورسولې. د مرستو رسولو بهترینه لاره دا ده چې نغدې پیسې ورته ورسوئ، ځکه په افغانستان کې بازار [خپل] کار کوي، اما دا هم ډېره ضروري ده چې مېرمنو ته پیسې ورسوئ، ځکه د کورنۍ او ژوند مدیریت د مېرمنو په غاړه دی او که د هغوی په لاس کې پیسې

نه وي، کومه ډوډۍ او نور ضروريات چې لومړي دي، هغه شاته لوېږي. ښاغلي دې برخې کې لږ څه بې پروا دي، کله چې خپل نور ضروريات نظر کې ونيسي، توجه يې [د ډودۍ برخې ته] په دايمي توګه نه وي.

بل، د نفوس تقسيم دی؛ او نفوس باندې پوهېدل دي. موږ [د نفوس] تخمين سره سروکار لرو او آخري ارقام اوس چې ۴۰ ميليونه او څو تنه نفوس تخمين شوی، د هوا [له لارې سروې شوې] او تخمين شوی دی. [دقيق نه پوهېږو چې] په څمکه څه دي؟ هر څوک [د سيمو د نفوس د شمېر په اړه] يوه ادعا لري او دا ادعاګانې اکثره بې اساسه دي چې پلاني ولايت کې دومره نفوس نشته يا دومره دی.

جنبش: زيات يې په سياسي ملحوظاتو دي نسبت عيني ته.

دکتور غني: سياسي ملحوظاتو باندې دي او دا بايد سياسي ملحوظاتو باندې نه وي. د مثال په توګه، د افغانستان د نفوس سروې د داود خان د دوران د سروې په اساس ده چې ثبت نفوس هغه شروع کړی و، اما د کودتا [له امله] پای ته ونه رسېده. بيا ۱۹۷۹ کې [د وخت حکومت] بې له دې چې دا تکميله کړي، نتايج يې اعلان کړل. بيا په يو فورمول راغلل، مګر هغه فورمول کې هم ځينې ولايات لکه زابل، پکتيکا، دايکندي او يو بل ولايت و [په شمېر کې] نه وو نيول شوي. دا رقم څنګه برنامې جوړوئ؟ څنګه استناد کوئ؟

له سياسي نظره خنډونه وو او داسې وضعيت و جناب جنبش صيب چې د ويلو نه دی! دا رقم ژبه [او] دا رقم بې ادبي [کېدله چې] د منلو نه وه. اما په قصدي توګه د دې [پروسې] مخنيوی کېده. خبره دې کې نه وه چې قومونه ثبت شي. دا مطلق اختياري وه، هر چا د دې حق لره چې وواييي کوم قوم پورې تړلی دی يا نه دی تړلی؛ يا يې ځان ته افغان ليکلی شو. اما ضرور وه چې موږ دقيقې احصائيې ته ورسېږو. دليل يې څه دی؟ ځکه د احصائيه مرکزي ټول ارقام په بوديجې کې اساس کېښودل کېږي او هغه [ارقام] دقيق نه وو.

جنبش: تاسو د قومونو يادونه وکړله، لنډ، ډېر لنډ که راته ووياست ځينې ادعاګانې وې چې ځينې د احصائيې مامورين د خلکو قومونه بې له دې چې، مخصوصاً هغه څوک چې سواد نه لري، اړوي يې، يوه ته د خپلې غوښتنې او خوښې له مخې يو او بل ته بل قوم ليکي، تاسې ته د دغسې شيانو، اطلاع رسېدلې وه؟

دکتور غني: خبره د احصائيه مرکزي نه وه، خبره د ځينو جنګسالارانو وه چې په لوی لاس يې خلک مجبور کړل چې نور اقوام وليکي او دا اسناد موجود دي. خلکو نه پوښتنه وکړئ.

جنبش: يعنې د دوی د خوښې خلاف يا د عينيت خلاف په بل قوم پورې [تړل کېدل]؟

دکتور غني: د عينيت خلاف و. ادعا يې درلوده چې ځينې خلک مجبوره کړي. د مثال په توګه، ايماق يې نه غوښتل چې د ايماقو په نامه ثبت شي. ټولو ايماق اقوامو غوښتل چې ځان ايماق وليکي، اما ځينې يې مجبورول چې يوې يا بلې خوا ته [واوړي]. که څوک خپل قوم ټاکي، خپله بايد د دې انتخاب حق ولري. دا يوازې دې برخې کې نه وه. د

۲۰۱۴ ختم پورې امریکا اردو د قومونو په اړه اسناد ټولول چې وزارت دفاع او وزارت داخله کې د اقوامو په اساس ګڼون څومره دی؟ خو دا اسناد د اعتبار وړ نه وو. هلته بیا بالعکس و چې خپل هویت کې بدلون راوړي چې احصائیې کې یې [د بل قوم] تثبیت کړي.

نو ضرور ده چې دا شیان غیر سیاسي شي. یو افغانستان پورې تړلي یوو او خدای جل شانه ویلي دي چې په اقوامو یې ویشلي یوو. زما بیا اساس او معیار درې اکثریتونه دي: ځوانان، مېرمنې او بېوزلي. په هغه رقم که ورته وګورئ د افغانستان اکثریت [وګړي په کې] راټولېږي، مګر خلکو باندې پوه شئ چې کومې ژبې باندې غږېږي، ځان کوم قوم پورې تړلی بولي؛ او هېڅوک یې باید هویت په زوره بدل نه کړي.

بل، د نفوس له لارې باید وضاحت ولرو چې هر ولایت کې، هرې ولسوالی کې، هر ښار کې نفوس څومره دی چې د هغه په اساس باندې عادلانه تقسیمات وشي. عادلانه معیار یوازې نفوس نه دی، باید دا هم نظر کې ونیسئ چې وده څومره ده او څنګه متوازنې ودې ته رسېږئ. په دې [طریقه] فورمول ته رسېږئ.

جنبش: خوب در طول برنامه به بخش‌های دیگری از مشکلات و چالش‌هایی که وجود داشت، می پردازیم ولی یک چالش عمده، یک مشکل عمده این بود که ادارات دولتی افغانستان به هر علتی که بوده از پروگرامهای مختلف کمپیوتری استفاده می کردند. فکر می کنم این، کار شما را باید بسیار به مشکل رو به رو ساخته باشد؟

دکتور غني: مطلق! ببینید در وزارت محترم معارف، احصائیه تعداد مکاتب و تعداد معلمین هیچ وقت با هم سر نخورد. احصائیه ییرا که اینها داشتند و تعداد کسانیکه معاش می گرفتند [مختلف بود]. احصائیه ییرا که اینها داشتند آن را ما با سروی وزارت انکشاف دهات دوباره بررسی کردیم. مکاتبی که وجود داشت در جدول وزارت معارف نبود، و مکاتبی که وجود نداشت، در جدول وجود داشت. اگر پروگرام سرتاسری ملی و در عین حال از وزارت معارف، وجود نداشته باشد ، چطور می فهمید که یک نفر دو معاش نمی گیرد یا سه معاش نمی گیرد؟

در وزارت محترم فواید عامه، هر بار که من گزارش سرکها را می خواستم حداقل سه هفته به کار بود [که تهیه شود] و هر بار که اینها گزارش را می آوردند، ۵۰ تا ۶۰ غلطی مابینش می بود، چون شیوه نظارت شان مطلق پراکنده بود، اراکین بالارتبه وزارت ها، این را نمی خواندند.

قسمت دیگر آن، این فرهنگ عمومی است و تنها به افغانستان [متعلق] نیست، در سرتاسر ادارات دولت امریکا – هم به سطح فدرال که اپلکیشن های مختلف در طول زمانهای مختلف ایجاد شده و اینها با هم صحبت نمی کنند. بزرگترین این مشکل در خود وزارت مالیه بود. بودجه با خزاین در یک پروگرام منظم نبود. کار یک رئیس جمهور پالیسي سازی است، برنامه سازی باید تخنیکی باشد. بدبختانه در کشور این ظرفیت نبودو خوشبختانه من در این تجربه داشتم. اما اسناد و شواهدی را که من به کار داشتم، [یافتنش] قیامت بود. وقتیکه به ولایات می رفتیم، تشکیل

یک ولایت افغانستان در ۲۰۱۴ که مسوولیت به من انتقال پیدا کرد، از تشکیل تمام دولت در دوران داود خان کرده بلندتر بوده در بعضی ولایات، و نامهای مختلف [بالای این ادارات] گذاشته بودند. از طرف دیگر مسوولیت کاری حداقل [بود]. یک ریاست فواید عامه یک ولایت چه می کرد؟ در حالیکه کُل کار را اینها می خواستند از طرف قراردادی ها انجام بدهند. بنابرین یک مشکل اساسی در این بود که نه تنها به سطح ملی، پروگرام ها با هم وفق داده نشده بود و ارتباط مستقیم نداشت که از آن معلوماتی را که امکان پذیر بود بگیرید، بلکه در داخل یک وزارت هم [هماهنگی نبود]. نکته کلیدی: زیربنای فکری ما هنوز بر روی قلم و کاغذ استوار بود. کمپیوتر یک وسیله بود از خاطر این که بعض اسناد را با این نوشته کنند. این فرق اساسی است بین کمپیوتری ساختن یک شیوه اداری که بر اساس قلم و کاغذ استوار است؛ و ترتیب دوباره یا دیزاین اساسی یک نظام اداری بر اساس ظرفیت تکنالوژی معلوماتی.

جنبش: یعنی از کمپیوتر به عنوان ماشین تایپ استفاده می کردند به جای اینکه یک سیستم باشد؟

دکتور غنی: مطلق! و معلومات، اساس مدیریت را تشکیل نمی داد، چون بدبختانه، با شکل ائتلافی که وجود داشت مجبور بودید تحمل کنید. از خاطر ثبات سیاسی که نرویم به یک مجادله مسلحانه که تهدیدش به صورت دوامدار وجود داشت، مجبور بودیم اصلاحات را به صورت تدریجی عملی کنیم، نه به صورت امکان پذیر.

جنبش: نړیوالو موسسو سره رابطه څنګه وه؟ یعني هغوی د ټکنالوجۍ عین ژبه باندې له تاسې سره غږېدل که هغوی بیخي بله ژبه درلوده؟

دکتور غني: ستونزه په دې کې ده جناب جنبش صاحب چې هم نړیوال بانک، هم آسیایي بانک، په هغه څه باندې پوه نه وو چې ما دا دوه نیم کاله زده کړي دي او [مخکې مې] د کوونډ په دوران کې زده کړل – ځکه زه مجبور شوم چې مدیریت په خپل لاس باندې وکړم. د ملګرو ملتونو اسنادو ته ګورئ، Human Development Report – د انساني ودې ګزارش. ددې تفتیش ته چې وګورئ، د دوی اسناد د باور وړ نه دي. اما [هېڅا] د تفتیش ګزارش نه دی لوستی. ما دا ټول ګزارشونه لوستي دي. نه نړیوال بانک او نه آسیایي بانک د ډیجیټلي کېدو یوه منظمه ستراتیژي درلوده. پاکستان ته که وګورئ د مثال په توګه، پاکستان څومره پورووړی دی، که د دوی سیستم ته وګورئ، ۴ مختلف کمپیوټري پروګرامونه دي چې په آخر کې [یې اسناد] بیا په لاس او په کاغذ د یوه دفتر له خوا ټولېږي او دا اسناد د اعتبار وړ نه دي. نو دا ستونزه بین‌المللي ده. د همدې لپاره اوس ځینې ډېر ښه نشرات او څېړنې شوې دي چې دا دولتي ظرفیت غواړي.

له بلې خوا خاصتاً په امریکې کې یو موډ راغلی چې دا شیان باید خصوصي سکتور ته په قرارداد ورکړل شي. نړیوال بانک هم د قراردادیانو له خوا اقدامات کوي، آسیایي بانک او نور هم. بې له دې چې د ډیجیټلي دولت په اهمیت باندې پوه شوو او ډیجیټلي دولت خوا ته لاړ شوو، دا ستونزه نه حل کېږي. دا یوازې [په دې نه کېږي] چې یو چاته

[په دې خاطر] متخصص وواییٔ چې یو پروګرام لیکل یې زده کړي دي. د ډیجیټل جوړولو برنامه او تګلاره مطلق بل رقم توان او بل رقم تمرکز غواړي.

جنبش: نو دې لپاره چې په کلیو او ولسوالیو کې عادي اورېدونکي په دې پوه شي، د دغه ډیجیټلي دولت یا حکومت او ادارې، معنی دقیقاً څه ده ؟ یعنې کوم شي کې بدلون راځي؟

دکتور غني: د خلکو په ژوند کې [بدلون راځي]. هره معامله مو چې دولت سره کېږي په آسانتیا کېږي. د ټیلیفون له لارې هم کېږي، د برقي تذکرې له لارې هم کېږي او دولت به تاسې ته حساب هم درکوي. دولت خو د دې لپاره نه دی جوړ شوی چې ځان وچلوي. د دولت معنی دا ده چې ولس ته خدمت وکړي. [ډیجیټل حکومتولۍ سره] شفافیت راځي، د دولت مصارف کمېږي او خدماتو باندې تمرکز راځي. ځکه د دولت یوه ډېره برخه مصارف په دې راځي چې خلکو ته معاش ورکوي. که کم معاش ورکوئ هغوی فساد خوا ته راځي. [په ډیجیټل حکومت کې] د مثال په توګه، که یو ګمرک ته راځئ یا د مالیې دفتر ته راځئ، ډیجیټل کېدل درته په واضح توګه ښیي چې حساب مو څه دی؟

بلې خوا ته جایداد دی. شرعي جایداد په اساسي توګه یو واري تنظیمېږي چې د جایداد ټول [عُرفي] اسناد ختم شي، نه دا چې هرې محکمې کې مو بیا بیا وځغلوي. [له ډیجیټل حکومتولۍ سره] د ژوند هره برخه کې بدلون راځي.

هوا [یې بله برخه ده]. که کابل غوندې یوه برخه کې چې [ اسناد موجود وي د هوا ککړېدو لاملونه په آسانۍ معلومېږي]. موږ چې څېړنه وکړه، دا لوی تعمیرونه او اپارتمانونه چې وو، بدترین مصرف د سکرو او حتی د ټایرونو د دوی له خوا کېده. دغه شیان ټول کنټرول لاندې راځي.

حساب و کتاب چې د اسلام د مبین دین اساس دی او یوه خدمتګاره اداره ورته په کار ده، دغه خلکو ته برابرېږي.

بل، امکانات دي. زموږ تصور د مثال په توګه دا دی چې د ماشومانو روزنې لپاره یوه فزیکي مکتب ته اړتیا ده، اما که دولت ډیجیټلي شي، جوماتونه – شپېته تر اتیا زره کم له کمه جوماتونه لرو- کلاګانې، کورونه یا هر ځای کې چې لس نفره یا شل نفره ماشومان وي، دا ټول مراکز دي او د تحصیلاتو زمینه ورته [په کې] برابرېدی شي. معلم کمبود لرو، استادان کمبود لرو، ډیجیټلي دولت کې په بنیادي توګه بهترین استادان د ماشوم خدمت ته راځي.

د روغتیا، تشخیصاتو، کرنې، هوا، اوبو او خاورې د خصوصیاتو برخه کې دا ټول امکانات برابرېږي.

تعمیرات، څلورم صنعتي انقلاب سره، هغه کورونه چې په دوو کالو کې جوړېدل اوس په دوو اونیو کې جوړېدی شي.

دې خوا ته ځوو چې مثلاً څنګه خپلې اوبه له ځمکې او له انسان سر برابرې ولګوو او خپل ځنګلونه څنګه وساتو؟

[په دې پوهېږو چې] معلومات مو څه دي. دا معلومات یو بل سره شریکېږي. که یو څوک په مرکزي، جنوبي، شمال شرقي یا شمال زون کې. وي، سم ورته معلومېږي چې [کومه پروژه کې] څومره [منابع] لګېدلي دي؟ دلایل یې څه دي؟ ولې په دې برخه کې پانګونه کېږي؟ دلیل یې څه دی؟ د دې پر ځای چې راشئ یو کلنه بودجه جوړه کړئ، پنځه کلنه بودجه جوړولی شئ، که حوادث راځي په ډېره آسانه توګه بېرته [امکانات] د ولس په خدمت کې کېښودل کېږي.

جنبش: پس دیجیتل‌سازی به معنی این نیست که شما یک کاغذ را بگیرید، سکن کنید یا تصویر آنرا بگیرید و وارد کمپیوتر کنید، این یک روند بسیار پیچیده و طولانی هست.

دکتور غنی: از نگاه روند پیچیده است اما طولانی نیست. به شرطیکه ما دانش پالیسی سازی را اختیار کنیم و اولویت ما خدمت باشد. مشکل ما باز هم، من خدمت تان دوباره میآیم، غرور بیجاست. اگر دوران طفلی و جوانی ما نادر بود به این [دلیل] بود که ما با یک دیدگاه بسیار وسیع ملی تربیه شده بودیم و احساس برتری را نداشتیم. از خاطریکه اگر تحصیل می کنیم باید بادار شویم. حس ما از نگاه ذهنیت بسیار فراخ دیدگاه ملی که از محمود طرزی و دیگران دوام دارد، این بود که افغانستان ضرورت به خدمتگذار دارد. با آن ذهنیت تغییرات آمده می تواند و پروگرام دیجیتل سازی را که خود افغانها به وجود آوردند و عملی کردند نشان داد که در آن مرحله در حدود ۶۰۰ افغان با هم کار کردند و پروگرام را عملی کردند. اما باز هم مثال برای تان می دهم که سکتور خصوصی بین‌المللی را طرحش چه بود که من مانع شدم. آمده بودند، یک کشور دوست حاضر بود با ما کمک کند در این قسمت و یک متخصص آمد از یکی از کشورهای آسیای شرقی که پیشتاز بود. می فهمید پیشنهادش چه بود؟ ۶۰۰ میلیون دالر ما مصرف کنیم که باز هم اپلکیشن های مشخص را برای اینها ترتیب کنند. در حالیکه، تحقیقاتی را که من انجام داده ام، تمام این چیزهای پیشنهادی به ۶ میلیون دالر انجام شده می توانست. البته من پیشنهاد شان را قبول نکردم، اما اگر احساس کنند که فهم ندارید، این طریقه پیشنهاد است. در این بخش صله رحم وجود ندارد از طرف سکتور خصوصی. تنها منفعت است و منفعت آنی و اگر احمق پیدا کنند، احمق پولی را خوش دارند.

جنبش: د ډیجیټل کولو پروسې یوه بله برخه دا ده چې تاسې په داسې یوه ټولنه کې چې له بده مرغه هم جنګ ځپلې وه او هم د همدغو جنګونو او نورو عواملو له لاسه وروسته پاتې وه، تاسې د دغې پروسې پیل را وکړ او غوښتل مو چې دلته یې عملي کړئ، ډیجیټلي دولت رامنځته کړئ او خدمات واړوئ، تمه مو څه وه؟ اټکل مو څه و چې په دغو شرایطو کې څومره وخت کې دا پروسه، دغه بهیر بریالی کولای او عاملی شئ؟

دکتور غني: اوله برخه یې چې اساسات وو، له ۳ کالو یې ډېر نه وو په کار، ځکه هغه برخه کې د بشري پانګې له پلوه دومره ظرفیت راغلی و چې زموږ ځوانانو پروګرامونه لیکلی شول. دلته یو توپیر دی، یو هغه پروګرامونه دي چې خپله یې لیکئ او بله برخه یې هغه دي چې له بازار نه یې اخلئ، [دا انتخاب باید وکړئ چې] په څه ترتیب باندې یې کوئ، دا [امکانات] اوس په ډېره پراخه پیمانه دي. د مثال په توګه، دا شی چې د وریځ په نامه یادېږي، وریځ کې زښت ډېر

امکانات شته چې په ډېر لږ قیمت باندې یې تاسې واخلئ، مګر اساس یې دا دی چې یو شرکت نه یې وا نه خلئ، دوه یا درې شرکتونه سره یو کړئ چې خپل استناد ولري.

جنبش: منظور مو (Cloud) دی، هغه شی چې یوه تخنیکي اصطلاح ده، کله چې هلته د اسنادو او معلوماتو د زېرمه کولو یو بې‌ساری او پراخ میدان موجود وي.

دکتور غنی: بېساری [میدان وي] او دا ټول درته څرګندوي چې څه رقم وشي. بله برخه د پانګې اچولو ده. ستونزه په دې کې ده چې څنګه د هر وزارت، هرې ادارې، هر ولایت، او ولسوالۍ نظام بدل کړئ او خلک په دې وروزئ چې معلوماتي ټکنالوجۍ سره اشنا وي. یو ځوان چې دولس کاله مکتب یې لوستی [په دې] شرط چې سم مکتب یې لوستی وي او په الجبر، ریاضیاتو، فزیک او خاصتاً الجبر کې ظرفیت ولري، په شپږو میاشتو کې، کمپونه دي خاص، دوی ته د پروګرام لیکلو زمینه برابرولی شي. دا ډېر ګران کار نه دی. له بلې خوا نه هندوستان کې یو عظیم ظرفیت و، موږ ته یې وړاندیز کړی و چې قیمت یې په میلیاردها ډالرو ارزېده، مګر زموږ د وزارتونو ستونزه دا وه چې کوم شي کې نغدې پیسې نه راتلې، د دوی مینه به ډېره لږه شوه. نو امکانات وو، مګر بله برخه یې چې ضروري ده، له ابتدایي زده‌کړو نه تر لوړو زده‌کړو پورې، دې ښوونیز او اداري سیستم کې باید بنسټیز بدلون راشي. هغه ته له پنځه تر لس کاله په کار وو.

جنبش: یعنی اگر به حساب فیصدی بگوییم، به صورت کُل، هم در سکتور خصوصی و هم در بخش دولتی مثلاً چند فیصد پیش رفته بودید؟

دکتور غنی: فیصدی بسیار مشکل است. از این جهت که، تا به ختم ۲۰۲۱ نمی رسیدیم که ۲ میلیون دوکاندار و تمام سیستم پرداخت ها، بانک مرکزی و اینها به یک شیوه نمی آمدند، [واضح نمیشد]. معنای دیجیتل‌سازی پرداخت از طرف بانک نیست، باید در حقیقت تیلیفون هر افغان به حساب بانکی اش بدل میشد و این [روند] ایستاد شد. اهمیت دیجیتل سازی در این است که به صورت تهدابی موضوع فساد اداری و موضوع ارتباط دولت و ملت را با هم تغییر میداد.

جنبش: ببخشید همین را اگر توضیح کنید. یعنی ضرورت به گشودن حساب بانکی نبود، خود همی شماره تیلیفون یک حساب میشد؟

دکتور غنی: همین تیلیفون تان به حساب بانک بدل میشد. و این تجربه بسیار موفق در چین است. یک قصه برای تان می کنم: در چین در یکی از شهرهای بزرگش، دو نفر از قریه آمده بودند که دزدی کنند. رفتند در یک دوکان، اما در دوکان هیچ نوع پول نبود. از خاطریکه در چین تمام معاملات پرداخت، چه تکسی باشد، چه دوکانداری، کُلش از راه تیلیفون صورت می گرفت. چین پیش قدم بود. مثلی که در افریقا تیلیفون وسیله پرداخت بود. ضرور است بدانید که

یک حرکت سریع در حال انجام بود، اما چون اگر در یک نقطعه انعطاف باشید، فیصدی را تعیین کرده نمی توانید تا از آن نقطعه انعطاف نگذرید.

پول فزیکی در معاملات با دولت از بین می رفت و تیلیفون هر شخص در عین حال مثل پول جیبش واری بود که در جیبش نقد باشد، همان تیلیفون خود را نشان میداد، تیلیفون ثبت می کرد.

جنبش: این آغاز شده بود یا در حال آغاز شدن بود؟

دکتور غنی: در اول سپتمبر ۲۰۲۱ این عملی میشد. کُل ترتیباتش گرفته شده بود و کُل حساب بانکها، بانک مرکزی، حسابات بین بانک مرکزی و وزارت مالیه برای پرداخت ها اینها کلُش ترتیب شده بود.

جنبش: این شبیه آن چه بود که Apple pay می گویند که شما تیلیفون تان را به یک Reader ، به یک ماشین می گیرید و او هر مقدار پولی را که شما می خواهید یا آنجا چارج شده، از تیلیفون شما وضع [می کند] و به حساب آنها میرود.

دکتور غنی: این همین حساب است، اما چین از این کرده هم پیشرفته تر است. چین واقعاً پیشرفت بسیار زیاد دارد. و تلفیق تجربه های کشورهای مختلف را مورد گرفته بودیم. عمده‌ترین آن، این بود که بار اول تمام این از طرف افغانها انجام میشد.

جنبش: وبښئ، دغه برخې کې یوه بله پوښتنه دا ده، په لویدیځ کې چې کله دغسې مهم شیان راځي او د چین لاس په کې ښکېل وي، دوی سره شکونه راځي چې دوی به دا زموږ ټول معلومات، دا ټوله ډېټا یوسي چې موږ څومره مامورین لرو؟ څوک څومره معاش لري؟ کوم ځای کې څه شی لرو؟ اوبه مو څنګه دي؟ اوغیره... دغه اندېښنه تاسې سره هم وه؟

دکتور غني: چې واضح شي، موږ چین باندې اتکا نه درلوده. عمده ټکی ټول دا و چې دغه پروګرام په مطلقه توګه سر تر پایه د افغانانو له خوا ترتیب شوی او عملي شوی و. موږ لکه مخکې مې چې وویل د یوه ملګري ملک سره په مذاکرې کې وو چې راسره مرسته وکړي، اما هغه متخصص چې هغوی راولېږه زما خوښ نه شو. ځکه د هغه وړاندیزونه هغه ته پیسې پیدا کول و، نه موږ ته. موږ خپله د دې ظرفیت پیدا کړی و او اساس دغه و.

بلې خوا نه دا چې زموږ د مامورینو تعداد څه دی؟ او دا کوم ملي اسرار نه دي، بالعکس باید دا ټول واضح شي چې ولس پوه شي چې څوک، څوک دي؟ او آیا د دې ظرفیت لري؟ په څه توګه استخدام شوي دي؟ له بلې خوا باید دې باندې اقدام وشي چې په راتلونکي کې مو څه رقم اداره په کار ده؟ فعاله اداره مو په کار ده؟ یا دا چې د دې وسیله وي چې خپلو خپلوانو ته مو معاشونه ورکوئ؟ څومره بېسواده خلک مقرر شوي دي؟! یو تخنیکي وزارت، لکه فواید عامه کې داسې خلک د انجنیر په حیث ټاکل شوي وو چې تخنیک ثانوي یې هم نه و لوستی. آریانا [هوایي شرکت] کې

د انجینرانو په حیث [داسې خلک] ټاکل شوي وو چې دوکانداران وو. یا وزارت داخله کې یو کس یو کال قراردادي و، بل کال برید جنرال مقرر شوی و. دغلته شفافیت په کار دی چې ولس په واقعي توګه پوه شي. دغه اسناد اسرار نه دي، بالعکس دا د ولس حق دی چې پوه شي چې څوک په کومې ادارې کې دي؟ کوم یې اسناد دي؟ څومره شهادتنامې واخیستل شوې په پیسو باندې! څومره مصنوعي شهادتنامې دي! کلمه د ډاکتر او انجنیر څومره خلک استعمالوي بې له دې نه چې طب پوهنځی یې تکمیل کړی وي یا یې د انجینرۍ پوهنځی لوستی وي. دا خو تشریفاتي القاب نه دي. ما په عمر کې ځان ته په افغانستان کې پوهاند ونه ویلې، ځکه د افغانستان د ادارې مراحل ما طی نه کړل سره له دې چې غرب کې پروفیسر وم. یو اصول باید موجود وي. د چین برخه یوازې نه ده، اما نن په دې پوه شئ، داسې اسرار نشته چې د امریکې د انترنېټ له سیستمه تېر شي او امریکاییان ورباندې خبر نه وي. یو آخري کتاب وتلی دی «پټه امپراتوري»، دا د زېربنا امپراتوري درته ښيي او په عین حال کې هغه شی چې له مصنوعي اقمارو نه ګوري، بېحده ډېر دي. شفافیت اساس دی او که غواړئ چې واقعاً ملي اسرار موجود وي، باید ملي وحدت موجود وي. د کابینې له منځه به یې ټیلیفونونه کول اخبارو او ټلویزیونو ته چې تخریب وکړي. که یو ملي لیدلوری موجود نه وي او همیشه قصه په دې وي چې زما برخه څه ده او زه د دې لپاره دولت ته راځم چې له غوا نه شیدې واخلم، دا بیا نه په دین برابره ده، نه په ملت برابره ده او نه په اخلاقو برابره ده.

ډیجیټل کېدل [د شفافیت] لاره ده، ځکه بېرته راځئ یوه خدمتګار دولت ته چې [خدمت یې] باید اصلي موخه وي.

جنبش: و تاثیر وبای کرونا بر این روند چه بود؟ مثلاً تجارب شخصی ما در اینجا این بود که بسیاری از همکارهای ما کار را از خانه شروع کردند، جلسات به شکل مجازی آغاز شد. تاثیر کووید بر نحوه کار شما چه بود و اینکه چگونه شما از تخنیک برای رفع این مشکل استفاده کردید؟

دکتور غنی: بار اول بود که جلسات کابینه به صورت مجازی شد و بخش دیگری خوبیش این بود که بار اول بود که توانستیم تمام والی‌های کشور را در جلسات کابینه شامل بسازیم و همچنان جلسات من هم با والیان، هم با قوماندانان قول اردو ها، قوماندانان امنیه و مسوولین ولایتی به صورت مجازی صورت گرفت. قیود را من سر خود عملی می کردم. اما در ادارات ما بدبختانه قیود به آن شکل عملی نمیشد.

جنبش: منظور تان جلوگیری از سرایت بیشتر مرض [کرونا] بود؟

دکتور غنی: جلوگیری از سرایت بیشتر بود. جلسات را، جلسات فزیکی را ما در فضای باز انجام میدادیم. وبای کرونا موجب این شد که پروسه دیجیتل سازی در جهان شاید پنج چند یا ده چند سرعت یافته باشد. این هم نکات بسیار مثبت داشت، چون خصوصاً در کشورهایی که پیشتاز بودند، اینها توانستند خدمات را ارایه کنند. اما قسمت دیگرش این بود که در بیکار سازی یک قسمت اقشار هم [سهم داشت]، قسمیکه قبلاً برای تان ذکر کردم، یک قسمت

خدمات دیجیتل سازی شدند که دوباره پس به شکل عنعنوی اش برگشت نخواهد کرد. یک بحث اساسی حالا بالای این است که پروسه دیجیتل سازی چطور ممد کاریابی شود نه تنها موجب بیکاری.

جنبش: لنډ که دلته راته ووایاست، د ډیجیټل کولو مسئلې ته په پام سره، د افغانستان په کومه برخه کې ډېر پرمختګ راغی؟

دکتور غني: افغانستان کې دا اساس ایښودل شوی و، چې پس له دې نه ودرول شو. اساسي خبره دا ده او دلیل د دې برنامې دا و چې موږ باید بېرته ډیجیټل کولو، نه کمپیوټري کولو، بلکې ډیجیټل کېدلو ته په اساسي توګه راشوو او کوم تهداب مو چې ایښی و، له هغو پرمختګونو سره چې دا دوه نیم کاله په نړۍ کې شوي دي، یو ځای کړو او په واقعي توګه دې نتیجې ته ورسېږو چې په ډیجیټل کېدو کې د چټکتیا رمز دی. که بېړنی پرمختګ غواړو ۲۰۴۷ کال خوا ته، نو باید دغه باندې تمرکز وکړو ځکه ټول ابعاد د زېربنا، معادنو، د ځنګلاتو او دا... بېرته دې ته راځي. په دې اساس ژوند کې یو عظیم بدلون راوستی شئ او د تدریجي مرګ پر ځای یوه عظیمه ملي اراده منځ ته راتللی شي چې پرمختګ وکړو.

جنبش: همدلته لنډ که راته دا هم ووایاست چې دغه شیان خو...، یو څه د لګښت او پیسو موضوع یې تاسې ځای ځای یاده کړه، خو په مجموع کې دغه بهیر د ټکنالوجۍ، د نوي ټکنالوجۍ د ډیجیټل کولو، دا پیسې غواړي، ځینو ځایونو کې کېدای شي ډېرې وغواړې؛ ارزانې او آسانې لارې یې هم شته؟

دکتور غني: بالکل، مګر دا ضرور ده چې په دې برخه کې هم ووایو چې زموږ ځومره ځوانې پېغلې [مسلکي ډګر ته] را ووتلې. د هرات نجونو روباتیک ټیم یې یوه نمونه ده. بل د برلین تخنیکي پوهنتون کې او همدغه رنګ د کابل پوهنتون، پولي‌تخنیک او نورو برخو کې د افغانستان مېرمنو ماستریانې او دکتوراګانې واخیستلې. یعنې د افغانستان پېغلې، مېرمنې او ځوانان واقعاً ډېر ځلېدلي دي. همدارنګه چې هېر مې نه شي، په هندوستان، استونیا او نورو ځایونو کې یې هم درسونه ویلي دي.

د لومړۍ خبرې په ځواب کې به مو دا ووایم چې ډېرې پیسې ضایع شولې، خاصتاً د موازي اداراتو له خوا، د ملګرو ملتونو له خوا، د امریکې د دولت له خوا او د غیردولتي بنسټونو له خوا. غیردولتي بنسټونه د مثال توګه تر آخره پورې دې ته حاضر نه شول چې موږ ته حساب راکړي چې ځومره پیسې یې مصرف کړي. یوه بودیجه دوی جوړه نه کړله او قطعاً یې ګزارش نه دی ورکړی ولس ته او نه ملګرو ملتونو ورکړی دی.

جنبش: او تاسې هم څه نه شوو کولای ورسره؟

دکتور غني: ما بار بار ورسره [بحث کړی]. آخر کې زه مجبور ومه، تهدید کړي مې وو چې باسم مو. زه تیار وم چې د ملګرو ملتونو موسسې له افغانستانه وباسم. اما د دولت په تقسیم کې به هر یو تلل پلاني خان او پلاني خان ته او بیا

به هغوی راتلل چې دی د خارجیانو مخالف دی. کوم کمپاین چې زما په مقابل کې د ملگرو ملتونو او غیر دولتي موسسو له خوا وشو، بې‌ساري و. ځکه ما حساب غوښت. بل [دا چې] زه یې نه شوم غولولی. د دې خلکو اکثریت د نړیوال بانک په دروازه نه شوو ننوتلی، اما افغانستان ته چې راغلي وو، ځانونه یې متخصصین بلل. قانون واضح و چې باید له افغانستان سره مشوره وشي، اما تر ۲۰۱۴ پورې دوی ته بیا داسې امکانات ورکړل شول چې را ټولول یې ډېر سخت وو. نړیوال قوتونه په موازي مذاکراتو کې راغلي وو، ځکه یې غوښتل چې دوی وساتي.

طریقې شته، د مثال په توگه، اکثر سیستمونه چې بېل دي، اوس نوې لارې پیدا شوي چې دا کوم شي ته چې Legacy systems یا میراثي‌سیستمونه وايي؛ نوې طریقې او نوي پروگرامونه لیکل کېدای شي چې دا [له نویو سیستمونو] سره وتړي. اما مهم‌ترینه برخه دا ده چې باید د افغانستان دولت، پوهنتونونو، دوایرو او خصوصي سکتور کې دا ظرفیت راوړئ. گران به په دې وي چې، که په دوامداره توگه تاسې لاړ شئ او ووایئ چې موږ خو مصرف کوونکي یوو موږ تولید خوا ته نه ځوو. خبره بیا هم په دې کې ده، که تولید خوا ته لاړ شئ دا په لومړۍ برخه کې یو اندازه پانگه غواړي، اما دوامداره پانگه ده. بیا لکه د یوه گرامر او یوې ژبې غوندې ده. یوې ژبې باندې چې پوه شئ هغه ژبه استعمالولی شئ، هره ورځ بیا ورباندې پانگه نه اچوئ، اما که ژبه زده نه کړئ او ټکنالوجی باندې په اساسي توگه پانگه وا نه چوئ، بیا دا گرانه ده، ځکه همېشه به یې نور کوي. نو که موږ یې خپله وکړو [ارزانه راځي]، لکه که دا قوشتیپه کانال مو په قراردادي شرکتونو جوړ کړی وی سل چنده به لوړ تمام شوی وای. یا د دارالامان ماڼی یا د پغمان ماڼی یا جوماتونه یا دا نور. ضرور ده چې سپما باندې په بنیادي توگه فکر وکړئ، دغه ټکنالوجي‌گانې او دغه د ډیجیټل کېدو لاره، د سپما لاره ده. بیا مو پیسې په تحرک راځي، ځکه هر څومره یې چې په هوښیاره توگه مصرف کړئ، په هماغه اندازه ورنه زر نتیجه اخلئ او د ولس باور راځي چې تاسې دا کار تر سره رسولی شئ. نه [دا چې] قراردادونه د پردې شاته ورکړل شي یا یې څوک په زوره واخلي او بیا ټوله خبره په دې وي چې څنگه قرارداد سر ته ونه رسوي.

جنبش: و در این بخش بیجا نخواهد بود که یک کمی مکث کوتاهی هم بر هوش مصنوعی داشته باشیم. امروز هم از یک انقلاب دیگر گویا صحبت می کنند که شاید همه چیز را تغییر بدهد.

دکتور غنی: مطلق، این یکی از عمده‌ترین تغییراتی است که در تاریخ بشر به وجود آمده. یکی از وجیبه هایی که انسان را از حیوان تشخیص می کند نطق است، حرف زدن، فکر، اما امروز بار اول است که ماشین قادر به این شده که فکر کند و نتایج این نهایت مهم است، ابعاد بسیار مهم دارد. بدبختانه یک اقلیت بسیار کوچک در جهان تصمیم گیر است و اکثریت مطلق به یک صورت یا صورت دیگر از این تصامیم متاثر میشوند، اما امروز چون نهادهای بین‌المللی در ضعف مطلق قرار دارند، نهادهایی مثل ملل متحد و اینها واری. فکری که ضرور است و ابعاد آن در داخل بحث است، اما قانونگذار، کسانی که قانون گذاری میکنند در این بخش اکثریت خود شان ابعاد این را به صورت اساسی نمی فهمند. یک قسمت کتابهای نهایت مهم در این بخش آمده، خصوصاً از خود MIT که یکی از مراکز آنست و

نقاط دیگر جهان که جهت استفاده از این به چه صورت در خدمت اکثریت مردم جهان، کارگرها، افراد خانواده‌ها، ممالک رو به انکشاف وغیره و همچنین در مدیریت محیط زیست [قرار] بگیرد. چون با این سرعتی که هوا در حال گرم شدن است و اقلیم در حال تغییر است، این تغییرات می تواند واقعاً یک فاجعه ایجاد کنند. استفاده از این به صورت مثبت می تواند دنیا را با هم ارتباط بدهد و به همکاری بدل شود، اما سوء استفاده از این، فاصله را به مراتب عمیق‌تر کرده می تواند و یک قسمت کشورها، خدای ناخواسته به فقر دایمی و فاقه دوامدار دچار خواهند شد و یک قسمت دیگر به اوج ترقی خواهند رسید.

جنبش: ډېره مننه، وروستیو شېبو ته راغلي یوو البته ما وویل چې دا بحث هم ډېر پراخ دی، ډېرې خبرې غواړي همدغه مصنوعي هوش یا ځیرکتیا برخه کې یو عالم پوښتنې شته. په لوېدیځو پلازمېنو کې په دې اړه سرمشریزې کېږي چې څنگه د دې راتلونکو خطرونو مخنیوی وکړي، خو دلته به ځای نه وي، خو په دې آخر کې غواړم یوه عمومي پوښتنه وکړم چې موږ دغه ټول بحث ساتلی دی یوې خاصې نېټې ته او هغه ۲۰۴۷ کال دی چې افغانستان به په کې، معاصر افغانستان به په کې ۳۰۰ کلن شي. دغې مهمې نېټې ته په چمتووالي کې ستاسې له نظره د ډیجیټلي کېدو ونډه او ارزښت څه دی؟ او څه کېدلای شي؟

دکتور غني: لومړیتوب، لومړیتوب، لومړیتوب! لومړي صنعتي انقلاب نه محروم وو، دویم صنعتي انقلاب نه محروم وو، درېیم صنعتي انقلاب نه محروم وو، که غواړئ چې د ۲۰۰ کالو جبیره وکړو، باید څلورم صنعتي انقلاب باندې پانگونه وکړو، وروباندې پوه شوو او د خپل خیر او د خدای رضا لپاره یې استعمال کړو. معنی دا ده چې وخت ضایع نه کړو، لومړیتوبونه باید واضح وي چې یو هوسا، ژوندی، خپلواک، متحد او یو افغانستان غواړو. او د هغه هدف پلي کولو لپاره دغه رقم پانگونه په کار ده. په دې اساس د قرآن‌شریف امر دی چې د کایناتو اسرار درته ښکاره کېږي او ټکنالوجي د طبیعت په آثارو باندې ولاړه ده. څلوېښت کاله مخکې به لیتیمو څه ارزښت درلوده؟ نن حیاتي ارزښت لري. نو موږ باید په خپلو ټولو منابعو پوه شوو، معلومات مو باید دقیق وي او لاره باید وټاکو. تگلاره مو چې وټاکله چې، په ۲۰۴۷ کې څنگه او کوم رنگ افغانستان غواړو؟ بیا ټوله انرژي، ټول امکانات [راټولوو] او په گډه ملا تړو چې دلته ورسېږو. بیا به یو داسې افغانستان وي چې ان‌شاءالله تعالی سیالي وکړي.

جنبش: ډېره مننه، د بحث دغه برخه به همدلته پای ته ورسوو؛ البته زموږ پودکاستونه به روان وي، تاسې ته کور ودانی وایم ولسمشر محمد اشرف غني او اورېدونکو نه هم مننه چې تر دغې شېبې له موږ سره دي. تر هغو چې بیا بله خپرونه کې ستاسو خدمت ته راځو، زه خدای په اماني کوم.

دکتور غني: کور مو ودان، احترام مې، نېکې هیلې مې او سلامونه مې ټولو خویندو او ورونو ته، ټولو وطنوالو ته.

تل دې وي افغانستان، زنده‌باد افغانستان، یشه سن افغانستان.